Te Korowai Whetū
Social Cohesion

# ستراتیژیک چوکاټ

## Social Cohesion Guide

## د نیوزیلینډ  په Aotearoa کې ټولنیز یووالی (Social cohesion)

دا سند د هغو پایلو او نتایجو په لور د پرمختګ د اندازه کولو لپاره د لارې تعین کوي چې موږ یې د نیوزیلینډ په Aotearoa  سیمه کې د ټولنیز یووالي (Social cohesion) لپاره لیدل غواړو.  د دې ټولنیز یووالي  (Social cohesion) د پایلو وده به موږ د Aotearoa په اړه زموږ هغې لويې موخې یا لید ترلاسه کولو ته نږدې کړي، چېرې چې ”خلک، کورنۍ، واهاناو(whānau) او ټولنې په ګډه وده کوي“.

موږ به پوه شو چې ایا موږ د لاندېنیو پنځو پایلو د څرګندونو په وسیله د هغه کار ارزولو له لارې چې موږ یې ترسره کوو په ټولنیز یووالي (Social cohesion) کې ښه پرمختګ وکړو:

1. خلک، وهاناو (whānau) او ټولنې سره په اړیکه کې شي او د یوځای والي احساس وکړي
2. خلک، وهاناو  (whānau) او ټولنې د ګډون کولو لیوالتیا او وړتیا ولري
3. خلک، وهاناو (whānau) او ټولنې پکې ښکیلې او خپل حقونه پکې مشاهده کړي
4. خلک، وهاناو  (whānau) او ټولنې د دې لپاره وپیژندل شي چې دوی څوک دي او نورو ته څه ډول درناوی کوي
5. خلک، وهاناو (whānau) او ټولنې به په یو بل او عامه ادارو باور ولري.

زموږ موخه دا ده چې د هغه کار پر بنسټ چې موږ یې ترسره کوو مثبت څوابونه چمتو کړو. او د دې څوابونو اغیزه به زموږ د اصلي لید (”خلک، کورنۍ، وهاناو  (whānau) او ټولنې په ګډه وده کوي“) په لور د پرمختګ په اندازه کولو کې مرسته وکړي.

د کار کولو په وسیله به موږ خپل د ټولنیز یووالي (Social cohesion) لید ته هم پرمختګ وکړو ترڅو هغه ځایونه چې خلک پکې ژوند، کار، لوبې او زدکړې کوي ډېر خوندي ټول شموله او ملاتړي وي. پدې کې هغه کار شاملېږي چې زموږ په ټولنه کې سیستمونه او خدمات مختلفو اړتیاوو او مسلو ځواب ویلو ته ډېر عادلانه او ور کړي.

پلان جوړونه او نظم د بریالیتوب راز بلل کېږي، له همدې امله موږ غواړو خپل د ټولنیز یووالي (Social cohesion) کار او کړنې په شپږو مهمو برخو متمرکزې کړو:

1. تبعیض یا د خلکو مختلف چلندونه د توکم، عمر، جنس، معلولیت، جنسیت یا نورو اړخونو له امله توپیر لري
2. د مختلفو ډلو د نښلولو او تعامل لپاره مثبت فرصتونه
3. په مهمو فعالیتونو کې برخه اخیستل لکه رایه ورکونه، کارموندنه یا زدکړه او داسې نور
4. هوساینه او د هوساینې په وړاندې خنډونه
5. ټول شموله او ګډ ارزښتونه
6. د راتلونکو نسلونو لپاره زموږ د ټولنې او چاپیریال ساتنه.

موږ دا هم غواړو چې په دې شپږو برخو کې زموږ د ټولنیز یووالي (social cohesion) کار یا عملونه د څلورو اصولو لخوا رهبري شي.

1. زړوره مشري او د نوي شیانو تجربه کولو لیوالتیا
2. د ټولنې د هیلو او اړتیاوو له مخې رهبري
3. انعطاف پذیري او د خلکو د اختلافاتو پیژندل
4. ټول شموله معلومات او څیړنه چې ریښتینې اړتیاوې په ښه توګه منعکسې کړي

زموږ کار یا کړنې باید د تې تیریتی او ویټانګی (Te Tiriti o Waitangi) لخوا هم رهبري شي، کوم چې په Aotearoa نیوزیلینډ کې د ټولنیز یووالي (Social cohesion) د پیاوړتیا لپاره غوره مرستې چمتو کوي.

د Te Tiriti o Waitangi  درناوی به موږ سره په ټولنو کې د باور په رامینځته کولو کې مرسته وکړي ترڅو موږ وکولی شو د تمرکز په شپږو برخو کې د مساوي او عادلانه پایلو ترلاسه کولو لپاره په ګډه کار وکړو.

په ټولیز ډول، دا سند هغه ستراتیژي تشریح کوي چې په Aotearoa نیوزیلینډ کې د ټولنیز یووالي (Social cohesion) په تړاو زموږ د کار لارښوونه کوي.

Te Korowai Whetū
Social Cohesion